AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۹/۰۴/۱۴

# د سولې سړې او د جګړې ګرمې خبرې

د ارګ پرله پسي ناستې بې نتیجې شوې، بالاخره د مخکېني ولسمشر حامد کرزي په کور کې سیاستوال را ټول، پریکړه وشوه چې قطر ته به د حکومت له استازو پرته ځي. پر حکومت پړه اچول کیږي، چې د افغانانو د خپلمنځي ناستې د ځنډ هڅې کوي، او د مذاکراتو لپاره سولې ضد ځیرې معرفي کېدو باندې ټینګار کیږي، همدارنګه ځینو سرچینو راپور ورکړ چې استاد سیاف، انجنیر حکمتیار او استاد خلیلي هم د حکومت خوا نیولې او له طالبانو سره په قطر کې د مذاکراتو مخالفت کوي.
اوس چې نوي پکې د طالبانو د پسرلنیو عملیاتو خبره کیږي، له دې مخکې افغان حکومت د طالبانو د ځپلو او وژلو امرونه صادر کړل، د خالد په نوم عملیات یې اعلان کړل، او د طالبانو – امریکا او طالبانو – افغان سیاستوالو د سولې مذاکراتو مخالفت یې چې شونی وو، هومره وکړ. د امنیت شورا مشر په واشنګټن کې څرګندونې او د هغه په اړه د امریکا پریکړې، پرته له شکه د سولې مخ کې خنډ ګڼل کیږي.
د افغانانو خپلمنځي ناستې مهمې دي، ښاغلي حامد کرزي هم امریکا ږغ اشنا ټلویزون سره په مرکه کې ویلي: "زموږ هڅه داده چې حکومت هم قطر کې د افغانانو خپلمنځي ناسته کې ګډون وکړي، هیله مې ده او غوښتنه مې ده، او که یې ونه کړي، موږ د سولې اړوند ملې هڅه پرېښودلای نه شو، دا به جرم او خطاء وي."
په کار ده چې د سولې هڅې او د حکومت غوښتنې سره بېلې شي، همدارنګه د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان هم خپلې ځانګړې غوښتنې او هڅې لري، کرزي صاحب او ځینو نورو سیاستوالو ته په کار ده چې د سولې هڅې حکومت ته د رسیدو او په حکومت کې پاتې کېدو، واک غځېدو له هڅو څخه جلا وګڼي.
داسې معلومات شته چې تر لس زیاتو د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو هوډ کړي چې د ډاکټر غني ضد ائتلاف او هغه د جوزا پر لومړۍ نېټه له واکه لیرې شي. ویل کیږي چې ملګري ملتونه او زلمي خلیلزاد هم له همدغو نوماندانو سره سر خوږولي، او د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان لګیا دي چې نږدې د لس کسانو نوموونه د راتلونکي موقت او یا سرپرست حکومت لپاره ملګرو ملتونو او امریکا ته وړاندې کړي.
بلخوا ډاکټر غني هڅه کوي چې په واک کې پاتې شي، کله چې د ولسمشر ټاکلې نېټه پوره کیږي، د ولسي جرګې مشر باید د حکومت سرپرستي په غاړه ولري، خو اوسمهال ولسي جرګه بیخي شته نه، نوبت د مشرانو جرګې مشر ته رسیږي، د مشرانو جرګې د وکیلانو وخت هم څو میاشتې وروسته پوره کیږي، یوازې انتصابي (یوه درېمه برخه) سناتوران پاتې کیږي، چې بیا د سنا مجلس مشرې قانوني حیثیت د لاسه ورکوي. قانون بیا د بهرنیو چارو وزارت ته صلاحیت ورکوي، او هغه هم خپله سرپرست دی، قانوني حیثیت نه لري، نو ددې لپاره چې د واک خلا ډکه شي، د ګډ حکومت مشرتابه د مشورتي لویې جرګې د لارې کیدای شي د خپل وخت د غځېدو هڅې وکړي، په داسې حال کې چې د ګډ حکومت شریک ډاکټر عبدالله، د ولسمشریزو ټاکنو پېژندل شوی نوماند حنیف اتمر او ډیری افغان سیاستوال د لویې مشورتي جرګې د جوړېدو له تشکل او جوړښت سره، په اوس وخت کې اختلاف کوي. همدارنګه طالبان چې د هیواد نږدې ۷۰ سلنه خاوره په کنټرول کې لري، له خلکو غوښتې چې یادې غونډه کې ګډون ونه کړي.
په دغسې یو حساس پړاو کې چې د طالبانو د مذاکراتي ډلې نوموونه هم په موقت ډول له تور لسټ څخه وایستل شول، طالبانو د پسرلنیو عملیاتو اعلان وکړ، د طالبانو د پسرلني عملیاتو مخالفت امریکا، افغان حکومت او افغان سیاستوالو وکړ، زما (لیکوال) له انده، کیدای شي طالبانو ځینو پېښو ته د غبرګون له امله به د پسرلنیو عملیاتو اعلان کړي وي.

۱ – وار له مخه افغان حکومت د طالبانو ضد د خالد په نوم جګړیېز عملیات اعلان کړي.
۲ – د امریکا/ناټو درنې بمبارۍ، د ملکي کسانو وژنې، او په ځانګړي ډول د هلمند نادعلي ولسوالي کې له کوره د افغان میرمنو ایستل او کابل ته بندي له ځان سره وړل، کېدای شي یو مهم لامل وي، تر څو طالبان په ولس کې خپل نفوذ لا زیات وساتلای شي، او د خلکو غوښتنو ته یې ځواب ویلي وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

۳ – د امریکا لخوا د طالبانو سره د ۶مي ناستي ځنډ، چي پر خپل وخت ونه شوه، او همدارنګه قطر کي د افغانانو خپلمنځي ناستي اړوند د ځینو کړیو لخوا د ستونزو او خنډونو ایجادول.
۴ – داچي د سولي خبري لا هم د پریکړي درشل ته نه دي رسېدلي، د دې لپاره چي د طالب جنګیالو حوصله لوړه وساتل شي، نو طالبانو به د پسرلني عملیاتو اعلان کړي وي.

په کور دننه ستونزه دا هم ده چي سیاسي ګوندونه د حکومت او حکومت د دوی نظر د سولي اړوند نه مني، مګر حکومت د ټاکنو لپاره ځانګړي نیټه ټاکلای شي، خو د سولي مذاکراتي ډله په ۶ میاشتو کي نه شي معرفي کولای.
که څه هم د طالبانو او امریکا ترمنځ سولي مذاکراتو کي پرمختګ شوی، خو د حکومت د نه لیوالتیا له امله بین الافغاني تفاهم کي پرمختګ نه لېدل کیږي، او حتی خنډونه یې مخ کي ایجادیږي.
افغان حکومت به هر وخت ویل چي پرته له مخکي شرطونو د سولي خبرو ته حاضر دي، خو اوس بیا په سوله کي د سرو کرښو خبره کوي، په داسي حال کي چي په جګړه کي سرې کرښي ماتوي، خو په سوله کي بیا سرې کرښي لټوي، دا نو داسي ده لکه چاته چي وایي مستي په غلبیل کي درکوم.
د سولي مخکي خنډ د سیمي هیوادونو اندیښني او په ځانګړي ډول د قطر ناستي سره عربي هیوادو او هند مخالفت هم له پامه غورځول په کار نه ده، هند غواړي چي طالبانو سره د افغانانو خپلمنځي تفاهم ونه شي، بلکي طالب د حکومت برخه او په حکومت کي ادغام شي.
اخرالامر، د خلیلزاد پېغور حکومتي کسانو ته چي په جګړه کي ستاسي زامن نه وژل کیږي، او نه هم تاسي د هغو خلکو استازولي کوئ چي بچیان یې مري. بل ځای خلیلزاد وایي چي موږ (امریکایان) له جګړې خسته شوي یو، مګر ځواب کي یې افغان حکومت د سولي پر ځای پر جګړه ټینګار کوي.
خو بیا هم له ارګه دا بړغ را وځي چي په قطر کي نه، بلکي اسلام اباد کي دي غونډه له طالبانو سره وشي، دا نو لوی شرمونه دي، چي نور باید ارګ او ورسره ملګري پخواني سیاسي څیرې د سولي اړوند د افغان ولس حساسیت درک، او له خنډونو پیداکېدو لاس په سر شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ